



د ښاغلي جنرال سید عبدالقدوس سید د نوي چاپ شوي اثر په تړاو یو څو لنډې خبرې:

(جنګ های داخلي افغانستان یا د افغانستان کورنۍ جګړې) کتاب هغه تاریخي، مهم، اغیزمن او ارزښتمن اثر دی، چې د یوه زړه سواند، میړني، غښتلي پوځي شخصیت ښاغلي جنرال سید عبدالقدوس (سید) پر ځواکمن او اوچت قلم لیکل شوی دی.

دا سیاسي-تاریخي ارزښتمن اثر د کابل ښار د جګړو او د افغانستان د کورنیو جګړو په تړاو د یو لړ لیدتوګي او نظریاتو او څیړنو ټولګه ده. دا کتاب د افغانستان د کورنیو جګړو او پر (۱۳۷۵-۱۳۷۱)لمریز کلونو کې د مجاهدینو او شمالي ملېشو تر منځ د جګړو یو روښانه انځور او بیا هغه پېښې چې پر (۱۳۸۰) لمریز کال کې د امریکایي یرغل پر مهال د طالبانو د اسلامي امارت د نسکورېدو پر مهال رامنځته شوې وې لیکل شوی دی.

دا اثر په دوو برخو کې ترتیب شوی دی. لومړۍ برخه د کابل جنګونه، درویشت څپرکي لري او دویمه برخه کورني جنګونه دي چې یو څلویښت څپرکي لري. دا کتاب د لیکوال له سریزې سره ټولټال (۷۴۴) مخونه لري په جرمني هیواد کې د تاریخ او سیاست مینه والو او څېړونکو ته په ښکلي ډیزاین او صحافت سره چمتو او چاپ شوی دی.

که چېرې د افغانستان تاریخ په غور سره ولولو، زموږ د هیواد ټول تاریخ له جګړو، بربادی او تاوتریخوالو ډک دی. او تل په بیلابیلو پلمو کورنۍ ارتجاع، استبداد او بهرني استعمار د خپلو ناوړو اهدافو او ګټو لپاره د تاریخ په بیلابیلو پړاوونو کې د لوټمارو، تالنګرو، ظالمانو او زور واکو له خوا زموږ د ګران هیواد پر میړنیو، غیرتي او زیارکښو خلکو باندې جنګ ورتپل شوی دی، او زموږ توریالي خلک یې د

خپلواکۍ، د خاورې بشپړتیا او د ملي حاکمیت د ساتلو لپاره جګړې ته اړ کړې دي.

د مجاهدینو په نامه د یو شمېر اسلامي ګوندونو او تنظیمونو ترمنځ خپل منځي جګړه د کابل او نورو ولایتونو د تر لاسه کولو لپاره تر ټولو خونړۍ، تر ټولو ویجاړونکې او غمجنه جګړه وه چې د هیواد په تاریخ کې یې سارۍ نه شته.

د افغانستان کورنۍ جګړې اثر مهم، سیاسي – تاریخي اثر دی چې په ښکلي او روانو ادبیاتو سره لیکل شوی دی، او د جهادي تنظیمونو د اسلامي رژیم د ویجاړونکو پېښو په اړه کره او منطقي تحلیلونه لري.د دې تاریخي او مهم اثر په چمتو کولو کې، څرګندیږي چې لیکوال هر ځای ته د معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره تللی او د دغو خونړیو او ویرونکو پیښو کتونکی او شاهد هم دی او د خپل ځواکمن قلم له لارې د پیښو او حوادثو د لیکلو لپاره، په زړه ورتیا سره د جګړې ډګر ته هم تللی دی. د بېلابېلو پېښو د ابعادو په څېړلو سره، چې ده پخپله هم لیدلي او یا یې د بېلابېلو خلکو له سترګو، د جګړې د صحنو د عیني شاهدانو او یا د نړیوالې ټولنې د راپورونو او مستندو اسنادو په رڼا کې د دې جګړې روښانه او تیاره کونجونه څېړلي دي. زړه ورتیا او د جګړې د واقعیتونو او حقیقتونو څرګندول د دې اثرمهمه ځانګړتیا ده. د دې کتاب یوه مهمه او غوره ځانګړتیا په دې که ده، چې لیکوال د حقایقو او حقیقتونو په کرښه کې د جګړې ټول اړخونه په ماهرانه او صادقانه توګه تشریح کوي، او د جنګ د غندلو لپاره او د جګړې او جنګ غوښتونکو د رښتیني انځور په وړاندې کولو او د جګړې پر ضد مبارزه کړې ده. په دې اثر کې د داوود خان د واکمنۍ له دورې او د مجاهدینو د واکمنۍ له پای ته رسېدو او د طالبانو له خوا د کابل تر نیول کېدو پورې د روسانو له پوځي

يرغل ځخه د جګړو لاملونه او د هغوی خونړۍ پایلې څېړل شوې دي او د هغو پېښو، حقایقو او حوادثو په تړاو څېړنه او نیوکې شوې دي،او په خپل کتاب کې يې د هېواد پېښې د يوې بشپړې آيينې په څېر د خلکو او لوستونکو د سترګو پر وړاندې ايښې دي. ليکوال خپله دنده په علمي ډول او د واقعيت پر بنسټ ترسره کړې ده. دا اثر يو تحليلي او څېړنيز اثر دی او پيښې د تاريخ د علمي اصولو سره سم ارزول شوې دي. نوموړی اثر يوازې د پيښو او د حوادثو د ليکلو ثبتول نه دي. ليکوال پخپله د ډيرو پيښو عيني شاهد دی او په خپل کارنامو کې ګډون لري. کتاب د لاسته راوړنو تشريح ته وقف شوی نه دی، بلکې هغه د واکمنانو له ويرې پرته پيښې، حوادث او واقعيتونه په بېلابېلو ابعادو کې بيانوي. ليکوال د پوځي چارو کار پوه دی. خپلې زده کړې يې د کابل، د هند او د شوروي اتحاد په پوځي پوهنتونونو کې بشپړې کړې دي. نوموړی د افغاني پوځ په بېلابېلو برخو کې کاري تجربه لري، په نظامي مسلک کې کارپوه دی او د خپل هېواد خدمت ته ژمن دی. دی د وخت د دوو زبرځواکونو تر منځ د سياست او سړې جګړې له سياليو خبر دی، هغه د شلمې پيړۍ په پوځي تاريخي پيښو کې د يو کار پوه، تکړه او هڅاند ليکوال په توګه مهم رول لري. د ليکوال ځانګړتياوې او د کتاب د پيښو تحليل او تجزيه، اثر نور هم علمي او  او د منلو وړ ګرزوي.دی په پخواني دولت کې د يو سياسي او نظامي جنرال په توګه په کار بوخت وو، او د کابل د ستراتيژيکو نقطو د ټولو جنګي رازونو او د ښکېلو ډلو له خوا د استعمال شويو وسلو د ډولونو او د هغوی د مقابلې د تاکتيکونو په اړه بشپړ او مستند معلومات لري. جنرال صاحب سيد د ادب او فرهنګ مينه وال دی، له شعر او ادب سره ډېره مينه لري، له همدې امله يې دا اثر په روانه ژبه او په زړه پورې او زړه راښکونکي ادبياتو د پوځي او سياسي حالاتو په تفصيلي تحليلونو او څېړنو ليکلی

دی. نوموړي په هیواد کې کورنۍ جګړه او په تیره بیا په کابل کې د جګړې د پېښو د بیان لړۍ داسې انځور کړې ده، چې د هېواد په جګړه ییز ادب کې یې نوی فصل پرانیستی دی. ده هڅه کړېده، چې د واقعیتونو او د پوځي علومو د تیورۍ او عمل او د ریالیزم  او د جګړې ادبیاتو په رڼا کې د افغانستان خونړۍ او غمجنې جګړې ټولې برخې په ژوره توګه وڅېړي.

جنرال سید هغه څوک دی، چې د بشر د تاریخ تراژیدي په ډېر زړه سواندی او دقت سره څرګندوي. د دښمنانو د سترګو پر وړاندې له حقیقت، رښتینولۍ او دقت څخه ډک د داسې اثر لیکل یو زړور او د سربښندنې کار دی او په همدې دک و دلیل او ثبوت د ده شخصیت په رښتیا سره چې د خورا ستاینې او درنښت وړ دی.

د کابل  ورانوونکي او  او تر ټولو غمجن جنګونه د افغانستان د شلمې پېړۍ تر ټولو خونړۍ او ویجاړونکې تراژیدي وه چې د وینو تویولو، ورانیو او تاوتریخوالو او د بیلابیلو کورنیو او بهرنیو ټولنیزو ستونزو او کړاوونو لړۍ یې تر نن ورځې پورې دوام لري. د مجاهدینو او ملیشو د خپل منځي جګړو له امله د کابو دوه سوه زره بې ګناه هېوادوالو وژل، د کابل د ۷۰ تر ۹۰ سلنه مېشت ځایونو ویجاړول، د میلیونونو کسانو ټپي کیدل او معیوبېدل او د میلیونونو وګړو هجرت، د ملي شتمنیو لوټ او تالان، د جهادي او ملېشو له خوا د شتمنیو راټولول، د بشري حقونو څټکې سرغړونې، تیرى، تروریزم، د مذهبي او توکمیز افراطیت وده د دې جګړې ښکاره او ناوړه پایلې دي.

د  افغانستان کورنی جګړې اثر او په تیره بیا د کابل جنګونو برخه ډیره مهمه او د پام وړ منځپانګه او موضاعات لري. په دې اثر کې د صحنو د شاهدانو کیسې، په جګړو کې د ښکیلو کسانو شهادتونه، اثار او اسناد په کورنۍ او نړیواله کچه چې

خپاره شوې دي، انګیزې، لاملونه او د جګړې د ډلو ټپلو او قوماندانانو هویت، پیښې، د جګړې جریان او هغه ویجاړونکي اغیزې چې دې جګړې پریښې دي، په ډیرو په زړه پورې تعبیرونو او تفسیرونو کې لیکل شوي او د واقعیتونو ربښتیني انځورونه وړاندې شوې دي.

د کتاب هر څپرکی د حقایقو مجموعه ده او د پرله پسې څیړنو او سپړنو څخه سرچینه اخلي، چې په منطقی، بې طرفه توګه او زړه ورتیا سره تحلیل او تشریح شوی دی.

لیکوال د خپلو اثارو په لیکلو کې په زړه پورې لاره، سبک او طریقه غوره کړې ده، د ادبي دودونو او ریالیزم ترکیب یې د لیکنې په ترڅ کې د پام وړ دی.

نوموړي بډای او پیچلی کار کړی دی. نظامي تیوري، ادبي ژانرونه، ریالیزم او طنز یې ټول سره ګډ کړې دي.

لیکوال په یو ځای کې د خپلو سترګو او تجربو یادونه کوي او ګذارش ترینه جوړوي، او په بل ځای کې د یوه مسلکي پوځي په توګه د جګړې ډګرونه بیانوي، او همداسې د یادونو او خاطرو د لیکلو طریقې یې هم بیان کړي دي، او د یو پوځي کار پوه په توګه یې د جګړې پېښې، بدمرغۍ او ناخوالې انځور کړې دي. د یادونو بیان، لیدونه، د جګړې د کمپاینونو توضیحات دومره الهام بخښونکي او دردناک دي چې د هر با احساسه انسان ذهن او روان راپاروي.

د کتاب ژبه ساده، فصیح او زړه راښکونکې ده. د نوښت ځواک، د فکر او لید توګي بډایتوب ډیر په زړه پورې دي. لیکوال د پیچلو او ګونګو څرګندونو سره معامله نه کوي، ده ادبي کلمو او اصطلاحاتو او د نظامي علومو اصطلاحاتو ته په لیکلو کې ځانګړې پاملرنه کړې ده.

د کتاب ځانګړې موضوع د جګړې مسله ده، جګړه او د هغې ناوړه پایلې، وژنې، تباهي او بربادي ده، د جنایت کارانو او جنګیالیو د ناولو څېرو معرفي کول دي. د کتاب زیاتره برخه د کابل د جګړې په اړه توضیحات ورکوي. لیکوال هڅه کړې ده چې خپل لید توګي په بې طرفانه توګه او پرته له سپکاوي او قومي، سیاسي، سمتي او مذهبي تعصبونو بیان کړي.

لیکوال خپل قلم د یوې ځانګړې ډلې، قوم او مذهب د دفاع لپاره نه دی کارولئ، بلکې د ولس د دیني عقایدو، ملي ګټو، د جګړې په ډګرونو کې د نیول شویو هېوادوالو په ستونزو او کړاوونو کې خپل غږ پورته کړی دی.

او همداسې یې د ګاونډیو او بهرنیو هېوادونو ښکاره مداخلې او د هغوی د جګړېز سیاستونه په تفصیل سره بیان کړې دي.

لنډه دا چې د دغو اوږدو خپل منځي جګړو له امله زموږ د لرغوني هیواد ټولې مادي او مدني سرچینې او زیرمې له منځه تللې دي او هیواد یې وران او په کنډواله بدل کړی دی. د دغو ټولو ناوړو او ورانوونکو غمیزو ترڅنګ د مهاجرت، کډوالۍ او پردیسۍ ترخې، ځوریدلې او غملړلې شپې او ورځې هم د پام وړ دي، چې زموږ هیوادوال څو ځله ډله ییز مهاجرت ته اړ شوې دي او خپل ګران هیواد یې پریښی دی. له بده مرغه د مهاجرتونو دا بهیر لا روان دی او دا نه ده ښکاره چې کله به پای ته ورسي؟

ښاغلی جنرال سید عبدالقدوس سید یو له هغو پتمنو ملي ستو، وطنپالو او روښاندو، مسلکي او نظامي څېړونکو، سیاستوالو او تکړه لیکوالو څخه دی، چې د اوچت او ځواکمن قلم خاوند دی. له تنکۍ ځوانۍ څخه د خپل هېواد او هېواد والو سره ژوره مینه لري او د پرمختګ او پتمن ژوند وژواک لپاره یې هلې ځلې

کړې دي او د خپل اوچت قلم، توان، وړتیا او استعداد له لارې یې  زموږ د جګړه ځپلي، کړېدلي او ځورېدلي هېواد والو وطنپالنه، اتلولي او میړانه، د ټولنیز ژوند ستونزې او کړاوونه، ربښتینې او عینې پېښې، د  خپل منځي جګړو ربښتیني انځورونه او همداسې د افغانانو په منځ کې د یو شمیر نورو زړه  بوږنوونکو پیښو او حوادث او د لوټمارو او زور واکو ناولې، تورې او کرغیړنې څیرې په ډیره زړه ورتیا سره او په ډېر واقعبینانه توګه د شخصي ملاحظاتو، تعصباتو او احساساتو نه پرته .په خپلو ګټورو او اغېزمنو اثارو کې  په ډېر ښکلي او ظریفانه بڼه انځور کړیدي

ښاغلي جنرال صاحب سید خپل نوی چاپ شوی اثر چې (جنګ های داخلي افغانستان) نومېږي او په ډېر ښکلي ډیزاین او صحافت سره چاپ شوی دی، ماته له جرمني هیواد څخه په پوست کې پر خپل ځانکړي لګښت د هالند هیواد .ته راولیږو

.زه له خپل ګران دوست جنرال صاحب سید څخه د زړه له کومې مننه کوم

ما په ډېره مینه او لېوالتیا سره  دا ګټور او اغېزمن اثر ولوست. په ربښتیا سره چې د ده دا ارزښتمن او مهم اثر د خورا ستاینې او درنښت وړ دی چې په څو واره لوستلو ارزي او د هر با احساسه او با درده وطنپال انسان په زړه، ذهني او رواني حالاتو .کې ملي او وطني جذبې او ولولې را پاروي

زه ښاغلي جنرال صاحب سیدعبدالقدوس سید ته د دغې ارزښتمن او ګټور اثر د چاپولو له وجې مبارکي وړاندې کوم. ده ته په دې غوړیدلي سیاسي، تاریخي، نظامي، ادبي او هنري بهیر کې بریاوې او بریالیتوبونه غواړم او د ده  دلا نورو .اغیزمنو هستونو په هیله یم

په ډېر درنښت، مینه او مننه: انجنیر عبدالقادر مسعود